دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هلاک او تباهي ده ډندې وهونکو ته. هغوی چې له خلکو څخه راپیمانه کوي نو پوره یې اخلي او چې نورو ته پیمانه ورکوي او یا څه ورتلي نو کمې پکې کوي آیا پدې باور نلري چې راپورته به کړای شي. یوې لوی ورځې ته. پدې ورځ به ټول خلک د رب العالمین په وړاندې ودرېږي. (سورة المطففین: ۱ - ٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که: پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید مهمان خود را احترام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید در انجام صلهٔ رحم پیوسته اقدام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید سخن خیر بر زبان راند و یا خاموش شود. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۴۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۹۳ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د سلواغې ۱۸ مه د۱۴۳۴ هـ ق د ربیع الاول ۲۵ مه د۲۰۱۳ م د فبروری ۶ مه

افغانستان او پاکستان د همکارۍ په بې ساري سطحې سلا شول (کامرون)

PROPERTY OF ACKU

دا به د داسې یوې راتلونکې پر لور حرکت وي؛ چې ټول افغانان به دخپل هېواد په سیاسي عملیې کې ګډون وکړي (کامرون)

په افغانستان کې سوله په پاکستان کې د سولې په مانا ده مونږ داسې انګیرو چې په ګډه ژوندي پاتې کېدې شو او موږ خپل ګاونډیتوب او ګاونډیان نه شو بدلولی (زرداري)

په زرونو طالبان موږ سره په تماس کې دي او غواړي له خپلو وطنوالو سره خبرې وکړي، دوی پوهېږي چې دا د پرمختګ یواځینی لاره ده (کرزی)

کابل، رسنۍ:
د انګلستان صدراعظم ډېوېډ کامرون د افغانستان او پاکستان له جمهورو ریسانو سره له خبرو وروسته په مستقیم ډول په طالبانو غږ وکړ؛ چې د سولې په خبرو کې دې برخه واخلي. کامرون دا هم وویل، چې د افغانستان

پاتې ۴ مخ

"آی ام اف" در مورد اصلاحات اقتصادی با افغانستان به توافق رسید

مقامات افغان همچنان ضرورت بلند بردن درآمد گمرکی این کشور را درک نموده و قسماً برای عملی کردن سیستم مالیه بر فروش اشیا در سال ۲۰۱٤ آماده می باشند

کابل، رسانه ها:
صندوق وجهی بین المللی در ماه نومبر سال ۲۰۱۱ یک مبلغ بیش ۱۳۳ میلیون دالری را به افغانستان تخصیص داده بود که در جریان خروج قوای خارجی از افغانستان در سال ۲۰۱۴ به افغانستان کمک نماید. اما تاکنون صرف ۱۸ میلیون دالر این کمک ها به افغانستان داده شده است.
در یک اعلامیه صندوق وجهی بین المللی یا (آی ام اف) آمده است که یک هیات این موسسه در جریان سفر دو هفته ای به افغانستان با مقامات این کشور در رابطه با طرح اصلاحات به تفاهم رسید که در این صورت راه برای رساندن بقیه این پول به افغانستان باز می شود.

بقیه در صفحه ۴

تعزیرات وضع شده بر شرکت هوایی کام ایر رفع شد

حکومت افغانستان از ثابت شدن این مساله نگران است، زیرا این اتهام واضحاً تدابیر امنیتی میدان هوایی و طرز العمل گمرکی را در افغانستان زیر سوال قرار می دهد

کابل، رسانه ها:
پس از چند روز گفتگو و مذاکرات میان مقام های افغان و امریکایی، واشنگتن توافق کرد تا تعزیرات وضع شده بر شرکت هوایی کام ایر را رفع نماید. وزارت خارجهٔ افغانستان با استقبال از این اقدام امریکا می گوید که تحقیقات و بررسی در مورد اتهام وارد شده بر این شرکت ادامه خواهد داشت.
احمد ضیاء سیامک هروی معاون سخنگوی این وزارت به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که

بقیه در صفحه ۴

انتخابات شفاف و صلح دایمی

خاطرهٔ تقلب های گسترده در انتخابات گذشته سبب نگرانی شدید احزاب سیاسی و نهادهای مدنی شده و همچنان توزیع کارت های کهنه انتخاباتی که در حدود سه میلیون کارت های تقلبی و جعلی از خارج کشور شفافیت پروسه رای دهی انتخابات را به چالش گرفته است.

(نورن غلام سخی) - صفحه دوم

دننګرهار په ولایتي دفتر کې د میلاد النبي ﷺ ورځ ولمانځل شوه

دحزب اسلامي افغانستان د ننګرهار ولایتي دفتر تیره اونۍ ددلوې په ۱۳مه په ننګرهار ولایت کې دحزب اسلامي افغانستان په ولایتي دفتر کې دمیلادالنبي په یاد یو ارزښتمند کنفرانس جوړ کړ چې دننګرهار ولایت لسګونو مجاهدینو، قومي سپین روږو او د پوهنتونونو محصلینو پکې برخه اخیستې وه.
کنفرانس ته د ننګرهار پوهنتون پیاوړی استاد پوهنوال برکت الله تایب د عربو پرتاریخ او دنبي کریم پرکورنی ژوند اخلاق او سیرت یوه جامع او زړه راښکونکې رڼا واچوله، که څه هم د محمد صلی الله علیه وسلم اخلاق ...

پاتې ۴ مخ

امریکا د افغانستان، پاکستان او بریتانیا د ګډې اعلامیې ملاتړ وکړ

زموږ هدف دا دی چې د افغانستان او پاکستان له حکومتونو سره د ګډ کار له لارې د یوه داسې بهیر د رامنځته کولو ملاتړ وکړو چې د طالبانو اصلي مشران د افغانستان د سولې له عالي شورا سره د پخلاینې خبرې وکړي

کابل، رسنۍ:
د امریکا متحدو ایالتونو د بریتانیا د صدراعظم په کور کې د افغانستان، پاکستان او بریتانیا د هغې ګډې اعلامیې ملاتړ وکړ چې په شپږو میاشتو کې له وسله والو طالبانو سره د روغې جوړې ږغ کوي.

پاتې ۴ مخ

د لندن د درې اړخیزې غونډې پیغام څه دی؟

عبدالله کامه وال

ترهغې چې نړیوالو خپل ټاکلي اهداف نه وي ترلاسه کړي، ګاونډیانو سره زموږ پر سر شوې سودا سرته نه وي رسیدلي او پر اساسي او محوري مسایلو بحث او خبرې نه وي شوي نو د سولې او ثبات راتلل خوب او خیال دی.

په لندن کې د افغانستان، پاکستان او برتانیا د درې اړخیزې غونډې د بحث اجندا له وسله والو مخالفینو سره د سولې پرسرخبرې وې .
چارواکي وایي چې د بحثونو تمرکز تر ډېره پر دی و چې په ۲۰۱۴ کال کې د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان کې د وسله والو مخالفینود فعالیتونو مخنیوی څنګه وشي. داسې ویل کیږي چې دیادې غونډې د جوړېدو غوښتنه تېرکال د برتانیا صدراعظم دیوید کمېرون کړې وه چې هدف یې د درې واړو هېوادونو ترمینځ د ګډې همکارۍ او په سیمه کې دثبات راوستل بلل شوي و .

پاتې دریم مخ

خبرې اترې له خپلو، که له پردیو سره ؟!

(محمد خلیل) - دویم مخ

حزب نواز شریف بالای پیشنهاد مذاکرات صلح طالبان شک دارد

سخنگوی تحریک طالبان پاکستانی خواهان میانجیگری نواز شریف رهبر حزب مسلم لیگ ن و مولانا فضل رحمن رهبر جمعیت علمای اسلام و منور حسن رهبر جماعت اسلامی در مذاکرات میان طالبان پاکستانی و دولت گردید

کابل، رسانه ها:
رویه محتاطانه آن عده احزاب سیاسی و مذهبی پاکستان که طالبان پاکستانی خواهان میانجیگری آنها در مذاکرات شده اند باعث بروز مشکلات در این راستا گردیده است.

بقیه در صفحه ۴

سرمقاله د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

دا شف شف به تر کومې وي؟!!

په برتانیه کې د پاکستان او افغانستان ولسمشرانو یو ځل بیا ژمنه وکړه چې په افغانستان کې د سولې او ثبات راوستلو لپاره به خپلې کډې هلې ځلې جاري وساتي، د پاکستان ولسمشر ښاغلی زرداري د پخوا په څېر یو ځل بیا دا خبره تکراره کړه چې یو باثباته او مستحکم افغانستان د پاکستان په ګټه دی او موږ به په افغانستان کې د ثبات راوستو په لاره کې خپلې هلې ځلې کله هم ونه سپموو.

د پاکستاني چارواکو دا ډول څرګندونې په کراتو مراتو اورېدل شوي دي خو ددغو تعهداتو عملي بڼه او ثمره تراوسه نه ده تر سترګو شوې نو ځکه په برتانیه کې د اوسنۍ غونډې د مثبتو پایلو په هکله هم د افغانستان وګړي مطمئن نه ښکاري او همدا اندېښنه ښکاره کوي چې دا وعدې او ژمنې به هم د اوبو د سر ځګ ثابت شي.

خو یوې خبرې د افغانستان وګړي حیران او پریشانه کړي دي هغه دا چې آخر د دومره مکررو وعدو او ژمنو باوجود په افغانستان کې د سولې، ثبات او استحکام په اړه عملي اقدامات ولې نه کېږي او هغه کوم لاملونه او علتونه دي چې د دواړو هېوادو ترمنځ د اطمنان او باور فضاً یې پیکه کړې او د بې باورۍ تورې وریځې ورباندې خپلې وزرې خورې کړي دي؟!

ددې باوجود چې پاکستاني چارواکی په مسلسل ډول یو مستحکم او باثباته افغانستان د خپل هېواد په ګټه بولي او په هره ناسته او ولاړه کې د افغانستان استحکام د پاکستان استحکام بولي مګر د تېرو یولسو کلو راهیسې ددې پرځای چې په افغانستان کې د امن او ثبات د قیام لپاره عملي ګامونه پورته کړي او له افغانانو سره د ښه ګاونډیتوب او ښې ورورولۍ ثبوتونه وړاندې کړي برعکس ددوی ترمنځ د بې باورۍ واټن لاپسې زیاتېږي.

اوس پوښتنه داده چې د پاکستاني چارواکي په وړاندې هغه کوم خنډونه پراته دي چې له همکاري څخه یې په شا کېدو ته اړ کړي دي او ظاهراً د ډېرو هیلو او ارمانونو باوجود نه شي کولې چې خپلو ژمنو او وعدو ته عملي بڼه ورکړي. دا چې پاکستاني چارواکي هر وخت له افغانستان سره د دوستانه اړیکو د ټینګولو او د امن او ثبات د راوستلو خوږې ترانې زمزمه کوي مګر بیا د عمل په ډګر کې یو ګام هم نه اوچتوي دا نو د افغانانو په اذهانو کې عجیبې او غریبې پوښتنې او اندېښنې راولاړوي، ځینې فکر کوي چې پاکستان له افغانستان سره دوه مخیزه پالیسي چلوي او د افغانستان په بې ثباتۍ کې خپلې ګټې لټوي خو ځینې بیا دا فکر کوي چې پاکستان هم ځینې مجبوریتونه لري او د همدغو مجبوریتونو له کبله په یوه دوه کې حیران دی چې څه وکړي که د دولت د مخالفینو له حمایت نه لاس اخلي نو په سیمه کې د امریکا راتلونکی پوځي شتون او له افغانستان سره د هندوستان دوستانه اړیکې د پاکستاني ګټو په خلاف لوی تاوان بولي او خپل راتلونکی په تیاره کېویني، او که لاس اخستلو ته زړه نه ښه کوي نو خامخا به د شفتالو د ویلو پر ځای شف شف او تایم پاسي به کوي.

خیر خبره چې هر څه وي تر شاه یې هرو مرو غټ راز پروت دی، البته د افغاني او پاکستاني ولسونو لپاره دا د اندېښنې خبره ده چې داسې دوه ګاونډي مسلمان هېوادونه چې د دواړو استحکام او ثبات له یو بل سره ژور تعلق لري ولې خپل مسایل او مشکلات پخپلو کې نه شریکوي او هغه اندېښنې ولې له یو بل نه پټې ساتي چې تاوان یې دواړو ګاونډیو هېوادو ته متوجه دی؟! ایا دا به ورته ښه نه وي چې د دواړو هېوادو چارواکي ددې پرځای چې له یو بل نه خپلې راتلونکې اندېښنې او بې باوري ګانې پټې کړي په زغرده د یو بل مخې ته کېږدي او دهغوی دله منځه وړلو لپاره یو ګډ دریځ خپل کړي چې همدا ګډ دریځ او همغږي به یو لورې د دواړو هېوادو د دښمنانو د ناوړو عزایمو د خنثی کولو باعث وګرځي او بل لوري به د ښه ګاونډیتوب او دوستانه اړیکو په درلودلو سره په سیمه کې د یو برجسته اقتصادي او پوځي ځواک په توګه داسې تبارز وکړي چې تل لپاره د نورو مغرضو هېوادو له لاسوهنو څخه مامون پاتې شي.

تورن غلام سخی

انتخابات شفاف و صلح دایمی

از دوران زمام داری جناب رئیس جمهور کرزی نظر به قانون اساسی کشور بیشتر از یکسال واندی باقی نمانده، دغدغه ها و نگرانی ها نسبت به انتخابات آینده سبب رنج و اندوه مردم ما گردیده است.

طوریکه دیده می شود رسانه های تصویری و صوتی تبلیغات گستردهٔ را بخاطر انتخابات آینده ریاست جمهوری براه انداخته اند. نشست ها و بحث های داغ صفحات تلویزونها را فراگرفته است، دولت، اپوزیسیون، مخالفین همه پیرامون برگزاری انتخابات پیشنهادات ارایه مینمایند، یکی دیگری را متهم به تقلب و تحلف نموده فضای بی اعتمادی در بین دولت و گروه های مقابل به اوج خود رسیده است، نه تنها اینکه مردم ما را سراسیمه و هراسان نموده است، دولت هائیکه حکومت را در عرصه های مختلف اقتصادی، فرهنگی و نظامی همکاری میکند نیز دچار ناهنجاری و نگرانی شدید نسبت به انتخابات آینده افغانستان گردیده اند.

از یکطرف خاطره تقلب های گسترده در انتخابات گذشته سبب نگرانی شدید احزاب سیاسی و نهادهای مدنی شده و از جانب دیگر عدم توزیع تذکره الکترونیکی و کارتهای جدید برای واجدین شرایط رأی دهی و توزیع کارت های کهنه انتخاباتی که در حدود سه میلیون کارت های تقلبی و جعلی از خارج کشور شفافیت پروسه رأی دهی انتخابات را به چالش گرفته است که در این راستا بخاطر جلوگیری از تقلب و تخلف احزاب سیاسی و سائر نهادهای حقوقی به شمول فیفا اداره آزاد و مستقل انتخاباتی رأی زنی های را براه انداخته و برای انجام انتخابات شفاف و عادلانه پیشنهاداتی را به کمیسیون مستقل انتخابات، دولت و پارلمان ارایه نمودند که شامل مسودهٔ قانون انتخابات و قانون تشکیلات و صلاحیت ها کمیسیون انتخابات و ایجاد کمیسیون سمع و شکایات و همچنان حضور دو نفر اتباع خارجی در کمیسیون سمع و شکایات و سهم احزاب سیاسی در انتخابات توزیع تذکره الکترونیکی، تعین حوزه های انتخاباتی و برگزاری انتخابات در وقت و زمان معین آن در موجودیت نماینده گان احزاب سیاسی و نهادهای مستقل دیگر بخاطر نظارت از پروسه انتخابات پیشنهاد گردید نه تنها دؤلت به آن توجه نه نمود در مقابل تمام روند کاری انتخابات را به محاکم قضایی ارجاع نمود، که خود نغض سریع پروسه حل معضلات رای دهی شفاف را نشان میدهد. باوجود معضلات موجود چیزیکه درخور توجه و پراهمیت است. اشتراک فعال احزاب، گروه ها و مردم در روند انتخابات میباشد.

اگر ما خواسته باشیم انتخابات شفاف و عادلانه را بخاطر اعاده صلح پایدار و امنیت سراسری در کشور براه اندازیم. ناگزیریم که جهات موافق و غیر موافق در قضیه سیاسی افغانستان را دعوت نمائیم، تا با تفاهم بین الافغانی و تحمل همدیگر در سایه قانون معضلات داخلی خود را خود حل نمائیم. تجربهٔ تلخ سالیان گذشته ثابت نمود که مشکل افغانستان گرچه ابعاد ملی منطقة و بین المللی دارد با وصف آن راه حل این معضله و مشکل تفاهم بین خود افغانها است و این تفاهم و گفتمان ملی باید بدون نقش و مداخله خارجی ها صورت پذیرد. گرچه چالش های امنیتی موجود سر راه براه اندازی انتخابات شفاف و عادلانه در تمام مناطق کشور است علرغم آن حل قضیه سیاسی افغانستان را میتوان از طریق همدیگر پذیری و اشتراک همه جهت های درگیر برای پایان جنگ در انتخابات شفاف و عادلانه که سبب صلح پایدار در کشور ما میگردد جستجو نمود و در نهایت رئیس جمهور را باید انتخاب کرد که مسلمان آزاد، عادل، شجاع، عالم و متعلق به تمام جامعه افغانی بوده و مصالح ملی را نسبت به مصلحت های گروهی، شخصی و منطقوی ترجیح دهد. با همچو برنامهٔ ما میتوانیم به هدف نهایی ملت مسلمان ما که همانا انتخابات شفاف و صلح دایمی است برسیم.

محمد خلیل

خبرې اترې له خپلو، که له پردیو سره؟!

د دولت وسله وال مخالفین غواړي چې د افغانستان له دولت سره د خبرو پرځای له امریکا او د ناټو غړو هېوادو سره خبرې اترې وکړي، خو د افغانستان د چارواکو او د سولې د عالي شورا غوښتنه داده چې مخالف وسله وال دې د نورو هېوادو پرځای د افغانستان له دولت سره د خبرو اترو میز ته کیني او خپلمنځي ستونزې دې له یو بل سره د مشورو او تفاهم له لارې حل او فصل کړي.

که څېر ته اصل واقعیت ته ځیر شو او د خپل دین، هېواد او ولس ګټې په نظر کې ونیسو نو له دې پرته بله ښه لاره نه تر سترګو کېږي چې افغانان باید له هر څه مخکې پخپلو منځونو کې په جرګه شي د یو بل خبرې، استدلال او مشورې واوري، د اختلاف مرکزي او بنیادي لاملونه وڅېړي او دهغه دله منځه وړلو لپاره عملي ګامونه اوچت کړي. که له حقیقت نه سترګې پټې نه کړو نو هرو مرو به دې نتیجې ته ورسېږو چې د افغانستان اصلي ستونزه په افغانستان کې دننه پخپله د افغانانو ترمنځ ده او نورې ځومره ستونزې چې له بهر نه پر موږ تحمیل شوي اصلي محور یې همدا داخلي اختلافات او خپلمنځي جګړې دي. هغوی ته د لاسوهنې او مداخلې قوي چانس ځکه پیدا شوي چې موږ پخپله هغوی ته د لاسوهنې فرصت او زمینه برابره کړی ده چې کله هم افغانان پخپلو کې سره یو موټې او یو آواز شي، یو دریځ او یو شعار خپل کړي، د اتفاق او ورورۍ په فولادي صف کې ودرېږي نو له څه شک پرته د نړۍ هېڅ یو ځواک به دا توان پیدا نه کړي چې په افغانستان کې د لاسوهنې جرئت ترلاسه او خپل ناولي موخې پکې پیاده کړي.

دا څومره د بدبختۍ او تأسف خبره ده چې خپلمنځي اختلافاتو د ختمولو پرځای له نورو هېوادو سره د سازشونو او سودا بازۍ له لارې اقتدار ته د رسېدو چارې پرمخ بیایو، په داسې حال کې چې دا کارونه د هېواد یوه ستونزه هم نه شي حلولې بلکې لایې پسې زیاتوي. په افغانستان کې به هله واقعي امن، ثبات او مستحکم نظام حاکم شي چې موږ د پردیو لاسونه په قطعي ډول له خپلو ګریوانو څخه لرې او پخپلو کې سره د اعتماد او همغږۍ په فضأ کې ژوند تېر کړو. اقتدار ته د رسېدو په خاطر د نورو هېوادونو څخه د سیاسي، پوځي او مالي ملاتړ پرځای پخپل ولس اعتماد وکړو او دهغوی د مستقیمو رایو د ترلاسه کولو په صورت کې اقتدار ته ورسېږو. که څوک پرخپل ولس د اعتماد پرځای د پردیو هېوادو په ملاتړ د اقتدار واګې ترلاسه هم کړي نو د ولس له اخلاقي، سیاسي او امنیتي ملاتړ څخه به له یوه سره محروم وي ځکه چې هغه اصلاً د ولس په خوښه نه بلکې له نورو سره د سازشونو په نتیجه کې اقتدار ته رسیدلې وي او ددې پرځای چې د خپل ولس خدمت او غوښتنو ته لومړیتوب ورکړي د خپل بادار فرمایشونو ته زیات اهمیت ورکوي او د خپل هېواد ګټې دهغوی له ګټو نه قربانوي.

په حقیقت کې د هر هېواد د قوت اصلي سرچینه دهغه ولس او نظام دی تر څو پورې چې ولس پخپله د اتفاق په تغره ناست نه وي او د خپل قانون او نظام احترام یې پرځان نه وي لازم کړې د پردیو مغرضانه دوستي هېڅ ډول ګټه ورته نه شي رسولې، نه غښتلی قانوني حکومت قائمولې شي او نه هم د ولس اعتماد او مرسته ترلاسه کولې شي که داسې ممکن وای نو د کمونیستانو حکومت به له پښو، نه و غورځېدلې، د استاد رباني حکومت به له ولسي ملاتړ څخه محروم نه و، همداراز موجوده حکومت به هم له یو عالم ستونزو سره لاس او ګریوان نه و، نو ځکه د زمکنیو حقایقو په نظر کې نیولو سره د عقل او منطق غوښتنه داده چې له پردیو هېوادو سره د سازشونو پرځای پخپل ولس اعتماد وکړی شي. د قوت اصلي سرچشمه د هېواد اصلي وارثان وګڼل شي، ټولې ستونزې پخپلو کې د افهام او تفهیم له لارې حل او فصل کړی شي، تر څو افغانستان د یو تلپاتې استحکام له نعمت نه برخمن او د بهرنیو هېوادو له هر ډول منفي او مغرضانه لاسوهنو څخه مامون او مصؤن پاتې شي. دهمدغه واقعیت په نظر کې نیولو سره د افغانستان د مسلمان ولس قطعي غوښتنه داده چې د دولت مخالف وسله وال ځواکونه او د سولې عالي شوری ددې پرځای چې خپلې ستونزې له نورو هېوادونو سره شریکې کړي او دهغوی فرمایشونو ته لومړیتوب ورکړي، پخپلو کې دې سره د افهام او تفهیم له لارې حل، او په افغانستان کې د تلپاتې امن او استحکام د قیام لپاره په یو فولادي صف کې ودرېږي او د څو لسیزو راهیسې د روانو بدبختیو مخه خپلمنځي اتفاق او یووالي له لارې ونیسي، تر څو پورې چې افغانان پخپله خپلمنځي باور او اعتماد په پیاوړې کولو بریالي نه شي او بل چاته د سولې د راوستو د سوال کولو عادت پرې نږدي نو دا خبره دې د کاڼي کرښه وګڼي چې پردي کله هم په افغانستان کې د سولې د راوستو د ثواب نیت په زړه کې نه لري او نه هم دا د ځان په ګټه بولي چې افغانستان د سولې او ثبات کور شي او هغوی دلته د کبانو د نیولو له لوی نعمت نه بې برخه شي.

که موږ د دومره اوږدې تجربې سره سره بیا هم پر واقعیتونو سترګې پټوو او له نورو څخه د سولې د راوستلو سوالونه کوو نو ددې لازمي معنی همداده چې موږ خپلو غاړو ته پخپله د پانسۍ پړې اچوو او خپل ژوند پخپله له لاسه ورکوو.

د بگرام په وحشتناک زندان کې د ځورونکو شپو یاد

(شپږمه برخه)

حبیب الرحمن ابراهیمي : Ibrahimi.jornalist@gmail.com

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
Email: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

...په دې وخت کې چې مې حرکت وکړ په زینو کې یې ښکته او له شانه یې ورټیله کړم اودموټر مینځ ته یې واچولم سر مې دموټر په دروازه او پښې مې دموټر په دې کوز طرف ولگیدلې او سخت خوږ شولم یو امریکایې زما په پښو یې پښه کښیوده او موټر ته راپورته شو او ټوپک یې هم زما پر پښو راکښیښود ورته مې وویل (ایپ یو وانټ ټو کیلډ مي پلیز کیلډ مي) یعنې که مې وژنې نو مړ مې کړه او که نه نو پښې او ټوپک دې رانه لرې کړه هغه لږ وخوځید موټر ته یې حرکت ورکړ او ډېر تیز یې روان کړ زما له غوږونو یې گوشي لرې کړه او سترگې مې لاهم بندي پرېښودې.

موټر چې لږ وړاندې لاړ نو بیا مې دجیټ تیارو غږ ترغوږو شو او خوشحاله شوم اوفکر مې وکړ چې بل چرخې ته دې انتقالوي اویاهم دامنیت زندان ته مې وړي خو تیاري ته یې پورته کړم او په تیاره کې یې ښه ډېر وگرځولم اوچې یو ساعت شاوخوا وخت ووت نو تیاره ودریده او پخپلو کې وویل)هي کن ناټ پاین دوي (یعنې دی نور لاره نه شي پیداکولای.

نور یې زما لاسونه له ولچک خلاص کړل او قلم یې په لاس کې راکړ اوراته یې وویل ساین یعنې امضا وکړه ماهم په امضا کولو پیل وکړ او پنځلس امضاگانې رانه واخستلې راته یې وویل په دې کې ستا امضاگانې ضروري دي په دې خبرې سره ما ورته ویل چې دا دڅه لپاره دي امریکایي وویل ډټ ایز مای ډاکمنټ ډونټ اسک ساین ساین (یعنې دا زما دوسیه ده بیا یې له شانه ټیله کړم اوراته یې ویل چې یوگن گو یعنې ته تلی شې په دې وخت کې داسې شوم لکه چې په خوب کې له بامه څوک ولوېږي نوزه هم راولویدلم چې ومې کتل نو مخې ته مې دښته ده هیڅ نه ترسترگو کیږي یوه طرف ته مې دلمر سترگه ده اوبل طرف ته دامریکایانو هغه ټانگونه دي چې په ماینونو کې لمنځه تللي اوداسې ډېر پراته دي چې له حسابه وتلي خو دلته مې چیغې کړې چې داکوم ځای دی یوکس راغي او منډې یې راوکړې اوراته یې ویل چې څه خبره ده ما ورته وویل چې دا کوم ځای دی هغه راته وویل چې دا بگرام دی هغه راته وویل چې کوم ځای خو دې نه دی مات لاس پښه سر ورمېږ، ماورته ویل چې زه خو دغو وحشیانودلته وغورځولم هغه راته وویل چې ورورہ هغوی دلته هره ورځ دوه درې تنه غورځوي بیا یې موږ تربوه ځایه وړو راځه را پښا شه زه مسلمان یم مه ویرېږه ماورته ویل چې زه تلی شم کله مې چې حرکت وکړ نو ولویدلم هغه راپورته او په شاه یې کړم او لږ چې لاړو بیا هلته یو موټر راپیدا شو تر یوه ځایه یې په دې موټر کې انتقال کړم بیا هغه موټر وان راته وویل ته به مې رسولې وی خو زه بل چیرته روان یم کنه نو ما کابل ته ور ماویل کور دی ودان او دلته چې کوز شولم نو خلک راباندې راټول شول، چا ویل چې دا بیچاره چا وهلی او چا ویل چا تښتولی، چا څه ویل چا څه، خو یو سړی راغی اوراته یې ویل چې راځه زماسره چای ډوډوی وخوره کالي به دې هم بدل کړم کالي مې څيري وو ماخبرې نه شوای کولای او چیغې رانه وتلې ما ورته ویل زه خو کافرانو بولی وم اوس به مې ته چیرته بوځې که مسلمان یې نو ما ته یوموټر پیداکړه چې کابل ته مې ورسوي نو هماغه وو چې یوموټروان باندې یې غږ وکړ چې ته دا زر روپۍ واخله اودغه سړی کمپنۍ ته ورسوه زه یې چې په موټر کې کښېنولم نوله ماڅخه غیر ارادي چیغې پورته شولې او خان مې نه شوای کنټرولای په دې حالت کې ډریور چې موټر یې چالان کړي وو بریته موټر گل کړ او هغه کس ته یې غږ وکړ چې حاجی صاحب دا سړی زه نه وړم ددی وضعیت خراب دی یابه په موټر کې راته مړ شي اویا به پولیس بل گومان وکړي چې دا ځنگه په موټر کې چیغې وهي هغه سړي ډېر تکړه سړی وو اوهغه ورته خپل دټلیفون نمبر ورکړ او ور ته یې وویل چې دا نمبر واخله که پولیسو هرڅه درته ویل نو ماته بیا زنگ ووهه او څه تشویش مه کړه داسړی امریکایانو بگرام ته وړی وو.....

(نوربیا)

د لندن د درې اړخیزې غونډې پیغام څه دی؟

(د لومړی مخ پاتې برخه)

د برتانیا د صدراعظم له دفتر ه په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې دا درې اړخیزه غونډه طالبانو ته دا پیغام ورکوي چې نور نو هغه وخت رارسیدلی چې د افغانستان د سولې په سیاسي پروسه کې ټول اړونده اړخونه برخه واخلي.او زیاتوي چې په یو باثباته افغانستان کې نه یوازې د افغانانو بلکې د گاونډیو هیوادونو او برتانیا گټې هم نغښتې دي.

چارواکي داهم وايي، په لندن کې د افغانستان، پاکستان او برتانیا په دریمه درې اړخیزه غونډه کې به د لومړي ځل لپاره د افغانستان، پاکستان او برتانیا استخباراتي او پوځي چارواکي هم خبرې وکړي چې دا به سولې په خبرو کې یو مهم گام وي اوهغه پدې مانا چې په پاکستان کې له ملکي حکومته نظامي چارواکي ځواکمن او اصلي تصمیم نیونکي دي اوپه تیره بیا دباندینې سیاست په برخه کې چې ټاکل شوې څه موده وروسته به جوړه شي شاید دواړه لوري پرهغه مسایلو ژور بحث وکړي چې په افغانستان کې دامنیت او ثبات په راوستو کې خنډ دي اوله هغې ناستې یوڅه طمعه کیدای شي.

برتانوي چارواکي همداراز هڅه کوي چې افغانستان او پاکستان به په خپلو کې د ستراتیژیک شراکت د هغه تړون په اړه هم چټک گامونه واخلي چې په تېره سپټمبر میاشت کې یې ژمنه شوې وه خوسیاسي شنونکي پدې اند دي چې خبرې خو ښې دي او پرته له خبرو اوناستو ولاړو داعتماد فضا نه شي رامنځته کیدایی او تر کومې چې یو پربل داعتماد او باور فضا قایمه نه شي نو داکنفراسونه او ناستې هیڅ گټه نه لري ځکه کنفرانسونه اوغونډې خو په تېرو یولسو کلو کې زیات جوړ شول خو د کوم نوم او موخې لپاره چې جوړ شوي وو هغه ترلاسه نه شوه که موږ د تیرو یولسو کلو جریاناتو ته وگورو نو موږ ته داپیغام راکوي چې ترکومې دنړۍ والو اوگاونډیانو اهداف نه وي ترسره شوي او گاونډیانو سره چې زموږ پر سر د سودا کومه وعده شوې هغه نه وي پوره شوی نو په افغانستان کې سوله او ثبات راتلل یو خوب اوخیال د ی او موږ د دې خوب تعبیرته دیوسف په څیر څوک نه لرو چې سم یې راته مانا اوتعبیر کړي اوچارواکو ته د راتلونکو ستونزو په هکله لارښوونې وکړي او نه هم دغو مغرورو چارواکو د داسې یو چالټه و کړه ځکه دسولې دراوستو په موخه خو په لسگونه کنفرانسونه او غونډې جوړې شو ې د ولسمشرانو ترمنځ تگ راتگ په کراتو مراتو په ډېر جوش و خروش ترسره شو خو دا ټولې ناستې اوتگ راتگ یواځې تشریفاتي وو، که موږ څوکاله وړاندې ولاړ شو او هغه کنفرانس ته متوجه شو چې په تیرو کلونو کې دامن دکنفرانس په نامه په کابل کې په ډېرو شاندارو مراسمو او ولسمشرانو لوړپوړو چارواکو او د دواړو هیوادونو قومي مشرانو سیاسي گوندونو په گډون جوړشوی و، او لکونه ډالر لگښت پرې وشو پایله یې څه وه او هغه پریکړې چې پکې وشوې هغه ولې تعقیب نه شوې؟ او دنه تعقیب عوامل څه و؟ نو که داډول ناستې پراساسي او محوري مسایلو ونه څرخي اودستونزې جرړه پیدانه شي اودهغې پرسرخبره و نه شي نو پایله یې راته بیا د تېرو کنفرانسونو په څیر ښکاري خو رب دې دا ناسته زموږپه هیواد کې د ستونزو دحل او دامن د راوستو وروستۍ ناسته کړي.

مړه یې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

شهید محمد هاشم «حامدی»

از آرشیف خانه جهاد افغانستان

محمدهاشم حامدی فرزند مولوی حامد در یک خانواده‌ء متدین و روحانی در سال ۱۳۳۶ در مرکز ولسوالی چاه آب تولد شد پدرش چندین سال به حیث مدرس در یکی از مدارس داخل شهر چاه آب تدریس می نمود حامدی شهید تعلیمات دینی را نزد پدر بزرگوارش آموخت در سال ۱۳۴۲ شامل مکتب شده و دوره‌ء ابتدائیه را در چاه آب و خواجه غار به انجام رساند. و بعداً جهت تحصیلات عالی روانه دارالمعلمین کندز گردید و تحصیلات خود را تا صنف ۱۴ دوام داد.

در سال ۱۳۵۷ نسبت فعالیتهای سازمانی اش به ولسوالی چاه آب رفت در ماه اسد ۱۳۵۷ از طرف ولسوال چاه آب دست گیر گردید و در آنجا زندانی شد بعداً به زندان پلچرخی کابل نقل داده شد. حامدی شهید در زندان همیشه در جهت تقویت پیوند فرزندان اصیل این نهضت سعی بلیغ به خرچ میداد. محمدهاشم شهید در سال ۱۳۵۸ از زندان پلچرخی آزاد گردید، و بمجرد آزاد شدن خود را به جبهات ولایت پروان رساند مدت شش ماه به جهاد مسلحانه در آن دیار ادامه داده به اثر تکلیف های جسمی که از شکنجه های زندان عائد حالش گردیده بود غرض تداوی عازم پاکستان گردید مدت شش ماه بحیث نماینده تخار جهت رفع مشکلات مجاهدین به چترال مقرر شد. در سال ۱۳۵۹ نظر به لزوم دید شورای ولایتی تخار حامدی شهید بحیث معاون اداری امارت تخار تعین گردید. حامدی شهید در ۱۸ / ۳ / ۱۳۶۰ همراه یک گروپ هشتاد نفری از برادران مجاهد جبهه‌ء توحید چاه آب گروپ چریکی حوزه‌ء شهری تعین گردید. به عملیات مستمر خود شب و روز دوام میداد. محمدهاشم مجاهد جان بکف که سر خود را در راه پیروزی سنگر پر خون حق به مشتری بازار شهادت عرضه نمود. این شهید راه حق مردی بود که در نخست ترین شرایط مبارزه اش کنار برادران هم مفکوره حزب اسلامی خود را خالی نگذاشت. او همیشه در مبارزه برحق و بی امان سهم فعال گرفته است. حامدی شهید بتاریخ ۱۵ / ۵ / ۱۳۶۱ در یک درگیری شدید مجاهدین مؤمن با قوای اشغالگر روسی و وطنفروشان داخلی در شهر ولسوالی چاه آب شتافت و بر حامیان شیطان حمله نمود تا اینکه بهنگام صبحگاهی در صد متری قرارگاه ارتش سرخ روسی و غلامانش قهرمانانه شهید شد. اسمش را با کارنامه‌ء حیات آفرین بر صفحه‌ء تاریخ مبارزات اسلامی کشور عزیز ما به خط جلی زر کوب نمودند. روحش شاد و یادش گرامی و راهش مستدام باد.

(انا لله و انا الیه راجعون)

په دې کې هیڅ شک مه لرئ چې واک پر پرېږدم (کرزی)



کابل، رسنۍ:
د افغانستان ولسمشر حامد کرزي نن په ناروې کې یو ځل بیا وویل چې د ولسمشرۍ د رواني دورې په پای کې به واک کاملاً پر بړدي.
له کرزي څخه په اوسلو کې خبریالانو پوښتنه وکړه چې په وروستیو کې داسي اوازې دي چې تاسو د واک اوږدولو ته لېواله یاست.
ده په ځواب کې وویل:«په دې کې هیڅ شک مه کوئ چې زه له ۲۰۱۴ وروسته د ولسمشر په توګه نه پاتې کېږم. نه د دریم ځل لپاره د ولسمشر کېدو هڅه کوم او نه اساسي قانون اجازه راکوي. انتخابات به کېږي او نوی ولسمشر به غوره کېږي.»
کرزی لومړی پلا په ۲۰۴۴ میلادي کال په نسبتاً شفافو انتخاباتو کې ولسمشر غوره شو، په ۲۰۹ کال بیا ولسمشر شو خو په انتخاباتو کې هم د ده او هم د ده د سیالانو په ګټه پر پمانه درغلي وشوه.
د افغانستان د ولسمشر د دریمې دورې انتخابات د ۲۰۱۴ کال د مې په پنځمه یعني له هیواده د ناټو پوځیانو تر بشپړ وتلو څو میاشتې مخکې ترسره کېږي.

پاکستان کالاهای متوقف شده تاجران افغان را آزاد کرد

مقام‌های افغان گفته‌اند که عمل متقابل آنها باعث شده که پاکستان پس از سه ماه هزاران کانتینر کالاهای تاجران افغان را آزاد کند.
در این مدت حدود سه هزار و هفتصد کانتینر کالای افغانها در پاکستان متوقف بود.
تاجران گفته اند که از نزدیک به سه ماه پیش سه هزار و ۷۰۰ کانتینر کالای تاجران افغان در پاکستان متوقف بود و روز سه شنبه، ۱۷ دلو این تاجران اجازه یافتند که کالاهای خود را به افغانستان منتقل کنند.
وحیدالله غازی خیل، سخنگوی وزارت تجارت وصنایع افغانستان به بی‌بی‌سی گفت که اخیرا حکومت افغانستان هم دست به عمل متقابل زد و حدود ۶۰۰ کانتینر کالاهای پاکستانی ها را در دو سوی گذرگاه تورخم متوقف کرد.
ناظران می گویند که گفتگوهای اخیر رئیسان جمهوری دو کشور در لندن هم در آزاد شدن کالاهای تاجران افغان در پاکستان بی اثر نبوده است.
سخنگوی وزارت تجارت گفت که انتقال کالاهای بازرگانان افغان از پاکستان عملاً آغاز شده، اما مسئولان اتاق تجارت و صنایع افغانستان گفته اند که برخی مشکلات دیگر و از جمله بالا رفتن هزینه انتقال، باعث کندی روند انتقال کالاها شده است.

افغانستان او پاکستان د همکاری ...

او پاکستان جمهورو ریسان د همکاری په بې سارې سطحې سلا شول.
د انګلستان صدراعظم وویل، د افغانستان او پاکستان د جمهورو ریسانو ترمنځ د همکاری ترون به طالبانو ته یو څرګند پیغام ورکړي او هغه دا چې د دې وخت رارسیدلی هر څوک باید د افغانستان په سوله ییزې سیاسي عملیې کې برخه واخلي.
کامرون زیاته کړه، دا به د داسې یوې راتلونکې پر لور حرکت وي؛ چې ټول افغانان په کې د خپل هیواد په سیاسي عملیې کې ګډون وکړي.
جمهور رییس حامد کرزي وویل، په لندن کې یې په ډاګه او څرګند ډول خبرې وکړې او ده د کامرون په څېر، په طالبانو غږ وکړ، چې د سولې په عملیې کې دې برخه واخلي.
جمهور رییس کرزي وروسته د انګلستان له یوه تلویزیون سره مرکې کې وویل؛ د طالبانو د مشرانو په ګډون په زرونو طالبانو له دوی سره خبرې کړې دي:
"په زرونو طالبان او د هغوی مشران له موږ سره په تماس کې دي. دوی غواړي له خپلو وطنوالو سره خبرې وکړي؛ دوی پوهیږي چې دا د پرمختګ یوازینې لار ده."
جمهور رییس کرزي زیاته کړه، هیله مند دی له پاکستان سره اړیکې چې په تیرو وختونو کې خړپړ وو؛ په راتلونکې کې ډېر نږدې، د ورورولۍ او ښه ګاونډیتوب اړیکې شي.
ګارډین ورځپاڼه لیکي، د پاکستان جمهور رییس آصف علي زرداري وویل، چې پاکستان به له طالبانو سره د هر ډول خبرو ملاتړ وکړي. په افغانستان کې سوله په پاکستان کې سوله ده. موږ داسې انګیرو چې په ګډه ژوندي پاته کیدای شو. موږ خپل ګاونډیتوب او ګاونډیان نه شو بدلولای."
د پاکستان او افغانستان مشرانو د انګلستان د صدراعظم په وساطت له خبرو وروسته په یوې ګډې اعلامیې کې وویل، افغانستان او پاکستان به د سولې د عملیې د ملاتړ په مقصد په پاکستان کې د طالب بندیانو په خوشې کولو کې خپله همکاري لا منظمه او غښتلې کړي.
د لندن په خبرو کې چې د بریتانیا د صدراعظم ډېوېډ کامرون په یوه ګوښه استراحت ځای کې وشوې، د بریتانیا جګ پوړو پوځي او استخباراتي چارواکو ګډون کړی و. په دوی کې د بریتانیا د پوځ لوی درستیز جنرال "ډېوېډ ریچارډز" او د دې هیواد د بهرنیو استخباراتو MI6 مشر "سر جان ساویرز" هم ګډون کړی و.
د بریتانیا صدراعظم په خبرو کې وویل، په افغانستان کې ثبات د انګلستان، پاکستان او افغانستان درې واړو په ګټه دی. ده وویل، د افغانستان په اړه موږ یو شان لید او نظر لرو او هغه دا چې یو ډیموکراتیک، باثباته او امن افغانستان به هیڅکله د تروریستانو په امن ځای بدل نه شي.

"آی ام اف" در مورد اصلاحات ...

این تفاهم قسماً به پیشنهاد بعضی قوانین مهم به پارلمان و تقویه سرمایه های بانکی در این کشور ارتباط می گیرد. در اعلامیه آماده است مقامات افغان در مورد ضرورت منظم ساختن پالیسی پولی برای دفاع از پس انداز های بین المللی این کشور، نیز موافقه کرده اند.
به گفته صندوق وجهی بین المللی مقامات افغان همچنان ضرورت بلند بردن درآمد گمرکی این کشور را درک نموده و قسماً برای عملی کردن سیستم مالیه بر فروش اشیا در سال ۲۰۱۴ آماده می باشند.
نظر به بیانات این موسسه قرض دهنده جهانی، مقامات افغان موافقه کرده اند که ماجرای کابل بانک را هرچه زودتر به پایان می رسانند. موضوع همین بانک در آغاز سبب شده بود که آی ام اف قرضه های خود را به افغانستان برای یک سال متوقف بسازد.
کابل بانک که یک زمانی بزرگترین بانک خصوصی افغانستان به شمار می رفت در سال ۲۰۱۰ با دستبردها از سوی رهبران سابق آن ۹۰۰ میلیون دالر سرمایه آن حیف و میل شد که بخش های آن با خرید ملکیت ها مفشن در دوبی به مصرف رسید.
در اعلامیه صندوق وجهی بین المللی آماده است که دورنمای اقتصادی افغانستان در سال ۲۰۱۲ مثبت بود و رشد اقتصادی و درجه تورم یا انفلاسیون هم بهتر به نظر می رسید.
هیئت آی ام اف بعد از عملی شدن تغییرات دیگر در افغانستان یک گزارشی را تهیه نموده و به هیات رئیسه این موسسه ارائه خواهد کرد. در آن وقت هیات رئیسه این موسسه که از ۱۸۸ کشور عضو آن نماینده گی می کند، در مورد انتقال کمک ها، تصمیم خواهد گرفت.

تعزیرات وضع شده بر شرکت ...

رسانه ها در مورد اقدام قبلی امریکا در خصوص شرکت هوایی کام ایر معلومات ضد و نقیض را به نشر رسانده اند.
"باید خاطر نشان بسازیم که در رسانه ها نوعی غلط فهمی مبنی بر این که شرکت هوایی کام ایر از سوی ایالات متحده امریکا در لست سیاه قرار گرفته صورت گرفته است، این شرکت در لست سیاه قرار نگرفته بود بلکه در مورد اش تعزیراتی وضع شده بود، که بحالت عادی اش برگشت و تعزیرات رفع شد. قرار است اسناد و شواهد که ایالات متحده امریکا در زمینه اتهام علیه شرکت هوایی کام ایر در دست دارد به حکومت افغانستان بسپارد و در حال حاضر بررسی ها و گفتگو ها در این مورد ادامه دارد."
آقای هروی افزود، هر زمانی که اسناد و مداراک در این رابطه، از سوی ایالات متحده امریکا به حکومت افغانستان سپرده شود هیاتی را برای بررسی آن تعین خواهند کرد.
مقام های نظامی افغان و امریکایی نیز با نشر اعلامیه، ضمن تایید رفع تعزیرات بر شرکت هوایی کام ایر گفته اند که ایالات متحده امریکا و حکومت افغانستان به گونه مشترک به تحقیقات شان در این زمینه ادامه می دهند.
اردوی امریکا اخیراً شرکت هوایی کام ایر را به قاچاق مواد مخدر متهم نموده و سپس این شرکت را از لست کمپنی های قرار دادی اش بیرون کشید. روزنامه وال ستریت ژورنال در اوایل همین ماه به نقل از مقام های نظامی امریکایی گزارش داد که شرکت هوایی کام ایر به علت قاچاق مقدار زیاد مواد مخدر در داخل و در خارج از افغانستان در فهرست سیاه اردوی امریکا قرار دارد.
روزنامه همچنان نوشت که این حرکت به اساس شواهد و معلومات صورت گرفته است. اما مسوولان شرکت کام ایر و حکومت افغانستان این اتهام را رد نموده اند. حکومت افغانستان از سفارت امریکا در کابل خواسته است تا اسناد و شواهد را در خصوص اتهام که مقام های آن کشور بر شرکت هوایی کام ایر بسته اند، در اختیار این کشور قرار بدهد.
در این حال وزارت ترانسپورت و هوانوردی افغانستان نیز از دوباره عادی شدن روابط کاری ایالات متحده امریکا با شرکت هوایی کام ایر استقبال می کند.
گفته می شود که حکومت افغانستان از ثابت شدن این مساله نگران است، زیرا این اتهام واضحاً تدابیر امنیتی میدان هوایی و طرز العمل گمرکی را در افغانستان زیر سوال قرار می دهد. کام ایر به عنوان اولین شرکت خصوصی هوایی افغانستان حدود ۱۰ سال قبل به فعالیت آغاز کرده و هم اکنون طیاره های این شرکت در کنار ولایات به شماری از کشور های آسیایی نیز رفت و آمد دارد.
این بار نخست نیست که یک شرکت هوایی افغانی متهم به کار های غیر قانونی می شود، قبلاً شرکت خصوصی هوایی پامیر متهم به انتقال پول به شکل غیر قانونی از کشور شده بود. به اساس گزارش ها اگر قاچاق مواد مخدر بر شرکت هوایی کام ایر ثابت شود، ممکن تعزیرات بیشتر بالای این شرکت وضع شود.

دننگرهار په ولایتي دفتر ...

او سیرت په څو ساعتونو کې نه شي خلاصه کېدلې مګر محترم برکت الله صاحب په پخله لنډه لکچر کې د محمد صلی الله علیه وسلم سیرت او اخلاق په داسې روښانه او زړه راښکونکو لنډو جملو کې بیان کړه چې د کنفرانس ګډونوالو په ډېره مینه او غور تر اخیره واورید او خوند یې ترې واخیستو او د لکچر هره لحظه ورته تر بلې په زړه پورې ښکارېده. د استاد تایب کمال پدې که و چې دې خوندور تاریخ ته یې دیوې ښکلې او زړه راښکونکې کیسې شکل ورکړی و او تر اخیره یې یکې د اورېدو تلوسه موجوده وه.
دا په زړه پورې کنفرانس چې ترغرمې یې دوام درلود، د سیرت دا مبارک کنفرانس د ننګرهار پوهنتون د علمي مرستیال پوهاند دکتور دل آقا وقار په دعائیه پای ته ورسېده. د یادونې وړ ده چې دغونډې ګډونوالو ته غرمنی هم دولایتي دفتر له لورې برابره شوې وه.

امریکا د افغانستان، پاکستان او ...

د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت ویندویې ویکتوریا نولنډ پرون ناوخته خبریالانو ته وویل: "موږ د دغو هیوادونو په ګډې اعلامیې کې شامل موضوعات پوره تاییدوو، او د افغانانو په مشرۍ د سولې د پروسې ملاتړ ته خان ژمن ګڼو."
اغلې نولنډ په سپینه مانۍ کې د افغانستان د ولسمشر او بارک اوباما د جنوری د میاشتې کتنې ته په اشارې وویل، دوو مشرانو په دې تاکید وکاوه چې د افغانانو په مشرۍ د سولې او پخلاینې بهیر په افغانستان او سیمه کې د اوږدمهال ثبات او د جګړې د پای ته رسېدا تر ټولو ښه لار ده.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویندویې همداراز وویل: "موږ باور لرو چې په لندن کې د بریتانیا، افغانستان او پاکستان سرمشریزه د دې پروسې لور ته یو بل ګام و."
دې همداراز وویل: "زموږ هدف دا دی چې هم د افغانستان له حکومت سره او هم د پاکستان له حکومت سره د ګډ کار له لارې د یوه داسې بهیر د رامنځته کولو ملاتړ وکړو چې د طالبانو اصلي مشران د افغانستان د سولې له عالي شورا سره د پخلاینې خبرې وکړي."
په لندن کې د افغانستان، پاکستان او بریتانیا مشرانو په خپله اعلامیه کې پر وسله والو طالبانو ږغ وکړ چې په افغانستان کې د سولې او پخلاینې په بهیر ورګډ شي.
د دوی د خبرو په پای کې له خپرې شوې اعلامیې سره سم ټولو خواوو پر دې موافقه وښوده چې په راتلونکو شپږو میاشتو کې د سوله ییز حل د هدف د ترلاسه کولو لپاره هر راز ضروري اقداماتو ته خانونه وقفوي او د دې هدف لپاره کار کوي.
په اعلامیه کې همداراز راغلي: "دوی د افغانانو په مشرۍ د سولې د پروسې په خاطر د قطر په مرکز دوحه کې د افغانستان د سولې د عالي شورا او طالبانو ترمنځ د خبرو لپاره طالبانو ته د دفتر د پرانستلو ملاتړ کوي."
ولسمشر کرزي او ولسمشر زرداري وویل چې په دوحه کې د طالبانو لپاره د دفتر د پرانستلو تر څنګ به هڅه وکړي چې په افغانستان کې د پخلاینې پروسه په شپږو میاشتو کې دننه بریالی شي.
د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت ویندویې هم وویل چې دوی له طالبانو غواړي په دوحه کې د دفتر د پرانستلو لپاره رامخکې شي او د سولې له عالي شورا سره خبرې پیل کړي.
دې دا هم وویل چې باید د یوه خپلواک، غښتلي او متحد افغانستان لپاره هر اړخیزه سیاسي اراده د ټولو هدف وي.

حزب نواز شریف بالای پیشنهاد ...

احسان الله احسان سخنگوی تحریک طالبان پاکستانی در نوار ویدیویی که دو روز قبل به نشر رسید پیشنهاد مذاکرات مشروط با حکومت را نمود.
وی خواهان میانجیگری نواز شریف رهبر حزب مسلم لیگ ن و مولانا فضل رحمن رهبر جمعیت علمای اسلام و منور حسن رهبر جماعت اسلامی در مذاکرات میان طالبان پاکستانی و دولت گردید.
اگرچه حزب مسلم لیگ ن به رهبری نواز شریف پالیسی نرم در قبال طالبان کشورشان دارند ولی بالای اظهارات اخیر طالبان در رابطه به مذاکرات شک و تردید از خود نشان دادند.
سناتور مشاهد الله خان یکتن از اعضای این حزب به روز سه شنبه گفت، با آنکه حزب مسلم لیگ ن طرفدار مذاکرات با طالبان است ولی مشروط ساختن مذاکرات از سوی طالبان پاکستانی سوال برانگیز می باشد.
شماری از ملیت گرا های ایالت خیبر پشتونخوا بدین باور اند که عده از مراکز نظامی و پناهگاه های محفوظ طالبان پاکستانی در جنوب پنجاب واقع اند ولی مسلم لیک ن این ادعا ها را رد می نماید.
اگرچه حزب جماعت اسلامی پاکستان نیز مذاکرات را راه حل نا امنی های موجود در این کشور می دانند ولی در رابطه به پشنهاد اخیر طالبان تا هنوز رسماً چیزی نگفته اند.
یکتن از اعضای این حزب به شرط نگرفتن نامش به رادیو آزادی گفت که تا کنون طالبان با آنها تماس نگرفته اند و آنها از طریق مطبوعات اطلاع شدند که طالبان خواهان میانجیگری آنها گردیده است.
وی این موضوع را خیلی حساس خوانده گفت تا زمانیکه کمیته مرکزی این حزب در رابطه فیصله نه نموده است تبصره در این مورد پیش از وقت است.
یکی از شرایط مذاکرات با دولت از سوی طالبان پاکستانی میانجیگری حزب جمعیت علمای اسلام به رهبری مولانا فضل رحمن است گفته می شود که حزب مذکور با طالبان پاکستانی روابط نزدیک دارد.
در اعلامیه که از سوی حزب یادشده به نشر رسید آمده است که جمعیت علمای اسلام به رهبری مولانا فضل رحمن کمیته را تشکیل داده در در رابطه به مذاکرات فیصله نماید.
از سوی دیگر رحمان ملک وزیر داخله پاکستان پشنهاد مذاکرات از سوی طالبان را استقبال نموده گفت، حکومت آماده مذاکرات با تمام گروه های تندرو در حالی است که آنها خلع سلاح شده و قانون اساسی پاکستان را بپذیرند.

د غه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)
د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com